

## د سافتویر انجنیري څانګي تاریخچه

سافتویر انجنیري څانګه د کمپیوټرساینس پوهنځي د بُست پوهنتون په چوکاټ کی د (1393) هـ ش کال د لوړو زده کړو وزات لخوا منظور او تاسیس شوه ده دی څانګی تحصیلي دوره (8)سمستره ده دوه کاله عمومي او پاته دوه کاله يي په اختصاصي ډول سره سافتویرانجنیري ډيپارتمنت کي تکمیل کیږي. پدي څانګه کي تدریس په عملي او نظري ډول او د نوي تکنالوژي په مرسته مخته وړل کیږي ده دي څانګي ټول فعالیتونه د شروع څخه بیا تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده او په ښه ډول یې ټول علمي چاري مخته ځي، ځینو استادانو یې د پوهنځۍ او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعالیتونو له وجهي ستاینلیکونه تر لاسه کړي.

## زده کړه ایزي موخي

د کمپیوټر ساینس پوهنځی فارغان به لاندي وړتیا وي ولري:

- ☑ په مسلکي او تخصصي ډول د معلوماتي ټکنالوژۍ استعمالول.
- ☑ د معلوماتي ټکنالوژۍ په مټ په دولتي او غیر دولتي مؤسسو، ادارو او ارګانونو کي د کار کولو مهارت درلودل.
- ☑ د عصري پوهي او تخنیکي مسلکیتوب مهارت درلودل.
- ☑ په خصوصي او دولتي بنسټونو او شرکتونو کي د عصري او موډرني ټکنالوژۍ د استعمال او مــوثریت پوهه او مهارت درلودل.
- ☑ د کمپیوټري شبکې یا نیټورک د ډیزاین، ایجاد او جوړښتونو په برخه کي مکمل مهارت درلودل.
- ☑ د ډیټابیس یا د معلوماتو د ذیرمي د ایجاد او مسلکیتوب په برخه کي پوره پوهه درلودل.
- ☑ د سافتویر انجنیرینګ یا پروګرام د جوړولو په برخه کي مسلکي پوهه درلودل.
- ☑ زده کړه ایزي موخي ته د رسېدو وروسته د نورو لوړو زده کړو لپاره مکمل علمیت، پوهه او مسلکي مهارت درلودل.
- ☑ د پوهنځی په مربوطه څانګو کي په تدریس کي د عملي پروګرامونو څخه استفاده کول.

## د ( سافتویر انجنیري ) پروګرام د فارغ التحصیل څخه روښانه تعریف

د ( بُست ) پوهنتون د ( کمپیوټرساینس) پوهنځی د (سافتویر انجنیري) برنامه د (سافتویر انجنیري) لپاره د متخصصو او مسلکي کادرونو د تربیې په موخه ایجاد سوي. په دې اساس، د (سافتویر انجنیري) برنامه هغه شخص د خپل لیسانس دوري فارغ التحصیل بولي چې لږ تر لږه (138) کریډیټونه یی په یوه څلور کلنه تحصیلي دوره (8 سمسترونو) کي په ورځنۍ / روزانه او په پنځه کلنه تحصیلي دوره (10 سمسترونو) کي په شپنی / شبانه برخه کي پوره کړي او د پوهي، وړتیاوو او چلند په برخو کي د لاندي شرایطو لرونکی وي.

1. د پوهي په برخه کي: د (سافتویر انجنیري) برنامې فارغ التحصیل وکولای سي چي د لیسانس په کچه پر( تکنالوژي بلخصوص سافتویر انجنیري) باندي تسلط ولري ترڅو وکولای شي (د سافتویر انجنیري ) د متخصص کادر په توګه په ټولنه کي خپل شتون په ډاګه کړي.

2. د وړتیاوو په برخه کي: د (سافتویر انجنیري) برنامې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د اړتیا تر کچي له (د کمپیوټري مهارتونوښه مسلکی او تخنیکی پوهه، د زده کړیزو ... پروګرامونو د دایرولو و رتیا او نورو) سره آشنایی لري او پدي برخه کي د خپلي ستونزي د هواري توان لري.

3. د چلند په برخه کي: د (سافتویر انجنیري) برنامي فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د خپلو تخصصي مضمونونو (د سافتویر انجنیري) او مسلکي مضمونو له منځپانګي نه د هیواد نافذه قوانینو ته درناوی، اکاډمیک اخلاق، هیوادپالنه؛ لوړ اسلامي، انساني او اخلاقي ارزښتونه یی زده کړي، دې ټولو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تعصب او توپیري چلند نه خلا وي.






# کمپیوټرساینس پوهنځی

# FACULTY OF COMPUTER SCIENCE

# سافتویر انجنیري

# SOFTWARE INGINEEARING

## CONTACT US

**Phone**
+93 702 300 728

**Email**
bcs@bost.edu.af

**Web**
www.bost.edu.af

**Address**
Bost University Complex Lashkargah
Helmand Afghanistan

COMPUTER SCIENCE

### سافتویر انجنیری ډیپارټمنټ لرلید او ماموریت:

**لرلید: (Vision)**

د افغانستان په کـچه په علمي ډګر کي د سـافتـویـرونـو د تخنیکی اومسـلکي پـرمـختیایی جوړوني مهارتـونـه او د نویوټکنالوژیو په مټ د سافتویرونو د ایجاد او پرمختک په برخه کي یوه پیاوړي اکاډمـیکه اداره رامنـځ ته کول

**ماموریت: (Mission)**

د عصری ټکنالوژی مربوط په معـــیار ولاړي زده کـړي او استعمال د رواج کولو په موخـــه په ملـی او نړیـواله کچه د سافتویر ټکنالوژی په مټ مسلکي او تخصصي زده کړي په عملی او نظري ډول وړاندي کول.